SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال ۷۳ گڼه پرله پسې (۳۶۰) شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د رجب المرجب (۱۰)

د۱۳۷۹هـ ش کال د تلې دمیاشتې(۱۶)د۲۰۰۰میلادي کال اکتوبر (۷)

دکورنیو چارو وزارت په تالارکي :

یو توضیحی اوروزنیز سیمینار پرانیستل شو

دکورنیو چارو وزارت داروندو ارگانونو دنافذه قوانینو او مقررو توضیحي روزنیز سیمینار ورمه ورځ دده غه وزرت په تالارکي جوړشو . دغه سیمینار چي دریاست الوزرا اداري مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند دعدلیي وزارت وزیر محترم ملا نورالدین ترابي داطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوي قدرت الله جمال دچارو داداري لوي رئیس محترم مولوي سید محمد حقاني دکورنیو چارووزارت امنیتي او اداري معینانو دکابل میدان وردگو لوگر او بامیانو د ولایتونو والیانو او ددغو ولایتونو امنیه قوماندانانو ددولس گونو امنیتي حوزو مسوولینو اودکورنیو چارووزارت دگن شمېر چارواکو په گډون جوړشوي وو وروسته له دي چي دکلام الله مجید څو مبارک ایتونه ولوستل شول . دکورنیو چارووزارت د شوونې او روزنې رئیس محترم مولوي شیرمحمد او دپلټنې رئیس محترم مولوي حاجي محمد د خپلو خبرو په ترځ کي ددغه سیمینار کاري استفامتونه جوت کړل او داسلامي نظام دقوانینو او مقررو شه والي بې دتبر ٤مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

دبهرنیو چارو محترم وزیر له ښاغلي فرانسیس وېندرل سره په کتنه کي :

دافغانستان داسلامی امارت دریځ له پیل څخه سوله پېژدی

په خبروکي باید رښتینولي او صداقت موجودوي

نړیوال باید دوچکالي په ستونزوکي له موږ سره مرسته وکړي

کابل باختر

دبهرنیو چارووزیر محترم وکیل احمد متوکل دپنجشنبې په ورځ دخپل کار په دفتر کي دافغانستان په چاروکي دملگرو ملتو دسازمان دسرمنشي له خانگري استازي سره وکتل لومړي دافغانستان چاروکي دملگرو ملتو دسازمان دسرمنشي خانگري استازي ښاغلي فرانسس ویند رل دخپلو فعالیتونو او خبرو اترو په باب چي دنړۍ دېو شمېر هېوادونو له استازو سره یې کړي دي معلومات ورکړل وروسته دبهرنیو چارو محترم وزیر دافغانستان داسلامي امارت دپالیسي او دریځ دبیا نولو په ترځ کي وویل : دافغانستان داسلامي ٤ مخ

په اسلام آباد کي :

دافغانستان سفیر له اربک دېمول سره وکتل

کابل باختر :

په اسلام آباد کي دافغانستان داسلامي امارت سفیر محترم ملا عبدالسلام ضعیف ورمه ورځ له افغانستان سره دملگرو ملتو دسازمان دبشري مرستو له ناظم اربک دېمول سره ددغه سفارت په مقرکي وکتل . په دغه کتنه کي په داسي حال کي چي په اسلام آباد کي دافغانستان داسلامي امارت دسفارت سکرتر محمد سهیل شاهین هم حاضر و دافغانستان داسلامي امارت سفیر دملگرو ٤ مخ

محترم مولوي محمد سلیم«حقاني » معین وزارت امر بالمعروف ونهي عن المنکر در مصاحبه با خبرنگارشریعت :

یگانه غایه وآرمان ما تطبیق قانون خداوند «ج» درروی زمین می باشد

هم اکنون ۸۵ فیصد اصلاحات دربین افراد جامعه بوجود امده است

شریعت : خوانندگان عزیز !در رابطه به تقسیم اوقات کاري ونتایج حاصله فعالیت چارساله موظفین وزارت امربالمعروف ونهي عن المنکر خبرنگار ما مصاحبه را با محترم مولوي محمد سلیم «حقاني » معین آن وزارت انجام داده است که توجه ص٤

مدیراموسسه دکرنې له وزارت سره مرسته کوي

کابل باختر :

دمدیراموسسه په بهلابېلو کرنیزو او مالداري څانگو کي دکرنې له وزارت سره همکاري کوي . په هغه کتنه کي چي دکرنې دوزارت دمعین محترم مولوي عشیق الله عشق او دمدیراموسسي دهیات ترمنځ ترسره شوه پرسپره پردې چي دنوموړي موسسي دهمکاري په ضرورت ټینگار ص ٤

معاون اداره پست وزارت مخابرات در مصاحبه باشریعت :

هم اکنون مراسلات پستی افغانستان با ۱۸۹ کشورجهان تأمین میباشد

علي الرغم تعزیرات اقتصادي ملل متحد پست بین المللي افغانستان دروقفه ٤- ۱۰ روزبه دورترین نقاط گیتي ارسال میگردد

به شمول کابل با تمام ولایات تحت حاکمیت ا. ا.امراسلات پستي ما تامین میباشد

خوانندگان ارجمند ! نهم اکتوبر(۱۲رجب المرجب) که مصادف با روزجهاني پست میباشد .خبرنگارما به استقبال وگرامیداشت ص٤



نمایی از ساختمان مقروزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان عکاسي : یوسف

دبهرنیو چارو په وزارت کي :

د سیاسي کمېسیون غونډه جوړه شوه

شریعت : دبهرنیو چارو دوزیر وکیل احمد متوکل په مشري ورمه ورځ دبهرنیو چارو په وزارت کي دسیاسي کمېسیون غونډه جوړشوه په غونډه کي دعدلیي وزیر محترم ملا نورالدین ترابي د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم الحاج مولوي قدرت الله «جمال » داستخباراتو دعمومي ریاست محترم کفیل او معین دکورنیو چارو دوزارت معین محترم مولوي نورجلال گډون کړي و په غونډه کي دسېمې نړۍ او دافغانستان داسلامي امارت درغنده سیاست په اړوند خبري وشوي .

په یوگوسلاویاکي:

دحکومت مخالفانو خپل مشر دجمهور رئیس په توگه اعلام کړ

بلگراد باختر

په یوگوسلاویا کي دحکومت مخالفانو دځوورځنیو مظاهرو په ترځ کي اوس دپارلمان او تلویزیون په نیو لو سره خپل مشر گوشتانیتسا دهغه هېواد دنوي جمهور رئیس په توگه اعلام کړ او دهغه هېواد دپایتخت په لاروکو ٤ مخ

زلزله شدید مناطق جنوب غربي چاپان را تکان داد

یك زلزله شدید صبح دیروز مناطق جنوب غربي جاپا ن را تکان داد دراثراین زلزله چندین عمارت تخریب ویا خساره مندشده وحد ا قل سي وچهار نفر از اهالي آن مناطق جراحت برداشته اند شدت زلزله مذکور به مقیاس ریکتر هفت اعشاریه یك درجه گزارش داده شده است به گفته متخصصین انستیتوت زلزله سنجي جاپان از سال۱۹۹۵ میلادي به بعداین شدید ترین زلزله در جاپان بود ه است .

دهلمند ولایت له محبس نه :

یوشمېر بندیان خوشي شول

هلمند باختر :

شپا ږس تنه بندیان وروسته له دي چي د دوي نسبتي دوسیي وڅېړل شوي ورمه ورځ دهلمند ولایت له محبس نه خوشي شول . دهلمند ولایت دمرافعي محکمي رئیس محترم ملا حبیب الله حنیفي دبوه تاکل شوي هیات په مشري ورمه ورځ دغه ص ٤

دکرنې او مالداري دوزارت خبرتیا

کابل باختر :

دکرنې وزارت دغنمو دکبنت دپراختیا او دهغو دتولید دسطحي دلوړولو په خاطر دغنمو دمنې دکرکېلې کمپاین په ټول هېواد کي پیل کړي دي دهېواد په مرکز او ولایتونو کي دکرنې وزارت او داسلامي امارت له نورو ارگانو نو څخه احترامانه هیله کیږي چي ددغه ټولگټي پروگرام په عملي کولو کي خپله ملي او وطني وجیبه ترسره کړي .

یك طیاره الجزایري وارد بغداد گردید

بغداد باختر:

یك طیاره الجزایري پریروز وارد بغداد گردید طیاره حامل هیات طبیبان ،روزنامه نگاران ونویسنده گان واعضاي پارلمان الجزایر بوده که بمنظور ابرازهمبستگي با عراق در برابر اعمال تعزایرت سازمان ملل متحد به بغداد سفر نموده است طیاره مذکور همچنان به مقدار ۱۰ تن مواد کمکي شامل ادویه ، سامانات آلات طبي قرطاسیه براي طلا ب مدارس ومواد غذائي به عراق انتقال داده است طبق خبر مذکور یك طیاره امارات متحده عربي نیز که حامل هیات ومواد کمکي بود صبح روز پنجشنبي درمیدان هوائي بغداد فرود آمد

دننگرهار ولایت ښاروالي د ا.ا.اترواکمني راوروسته :

دښار غونې په برخه کي اوچت گامونه اخیستی دي

شریعت : قدرمنو لوستونکو! زموږ خبریال داځل دننگرهار ولایت دښاروالي له رئیس محترم حافظ محمد سره ددوي داړوندو چارو دڅرنگوالي په هکله مرکه کړي چي دادي ستاسو پام یې دریوځ لوستلو ته راگرځوو . په پیل کي دننگرهار ولایت دښاروالي رئیس محترم حافظ محمد داسي ووېل : دننگرهار ولایت ښاروالي د ا.ا.ا. تر واکمني وروسته دښار غونې په برخه کي اوچت ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مخالفین دافغان ولس کړولو دپاره پلانونه جوړوي

دنړۍ والو خبري سرچینو په حواله ویل شوي چي مخالفین دایران په مشهد ښارکي دخپل منځي سلا مشورو ادعاکوي دوي وېلي چي په دي غونډو کي دگیلم جم ملېشو سرواکي دوستم او څینو نوروهم برخه اخیستي وه او داچي اوس به نودوي په بوه تازه سااوبنه ۲ مخ

شريعت

دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : غلام محمد فاروق
دبوې ګڼې بيه : په هيواد كي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاكستان كي (۳) كلداري
پست بكس : (٤٧١) كابل - افغانستان ټيلفون : ۲۱۳۸۱توزيع و شكايات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : $\frac{4\cdot385}{7}$ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

پښوستون دافغانستان په بېلا بېلو سېمو كي جنګي محاذونه پرانېزي دمخالفينو دجلسو او سلامشورو لړي ډېره اوږده او غځېدلې ده ، دوي مخكې هم ډېر ي داسي غونډي جوړي كړي دي او هڅه يې كړي چي په دي ډول خلكو ته خپل ښوو الي او پښوستون وښيي خوافغان ولس چي كوم حقا يق په خپلو سترګو لېدلي او ددوي دخپل منځي جګړو په لړكي چي څومره دسراومال زيانونه ورته رسېدلي هغه كله هم دهېرېدونه دي او دهيواد په مركز او ولاياتوكي داوراني كنډوالي تل شاهدي وايي چي جګړه مارو ډلګېو ددي ولس څومره مستمني ترخپلو هوسو ځار كړه خو په هرصورت اوس كه هغوي سره بو موټي كېږي او كه زموږ هدف ددوي دكار پلان او نقشه ده دوي په ډاګه وېلي چي دجګړو دپاره دبو نوي چوكاټ او نو بومحاذونو تكل كوي . څرنګه چي افغان ولس دتېروشل كلنو جګړو نه ډېر ستومانه شوي ،فكر نه كېږي چي لانور هم دخپل منځي جګړو شعارونو ته غوږونيسي او ملاتړيې وكړي بلكي اوس داملت په دي انتظار دي چي څوك به دسولي ، استحكام او سوكالي پروګرام ورته وړاندي كوي ترڅوخپل وران وېجاړ هيواد له سره ودان او ځان دسبالانو سره سبال كړي خوله بده مرغه دمخالفينو داعادت دي چي همېشه خپل ملت سره دجګړو دېېل كولو او نوبو جبهو دپرانېستلو لوزونه كوي كه څه هم افغان ولس به هيڅكله دداسي خبرو تنګه ونه كړي خودوي چي په بشپړډول دبهرنيو لښوونكو او مغرضينو په ولكه كي راغلي ښايي بيايي دبو څو ډالروخبره اوربدلي وي او غواړي دهغسولوهڅه يې وكړي بهرني مغرضين هم چي كله دخپلو دغولاس پوڅوپرله پسي ماتي ووېني نو په سياسي او نظامي ډګركي دخلكو غولو لود پاره دي ډو ل تبليغاتي نوبت ته لاس اچوي او له همدي كبله مو ولېدل چي په واروارېي نوي حكومتونه اونوي كابېني جوړي كړي چي هيڅ واقعيت يې نه درلوده دسياسي څېړونكو په اند دمشهد دغه غونډي هم ښايي ددي لپاره وي چي نورنومرسته وركوونكي هيواد ونه دوي ته منفي ځواب وركړي او كه احيا نآ ايران پاكوم بل هيواد بيا هم دمرستوآراده لري نو دابه يې هماغسي بوه اشتبا ه وي لكه مخكي يې چي كړي وه او كېداي شي داسي بو كار ته زړه هم ښه نه كړي. دمخالفينو له دغوناستو پاستونه له بهرنيو مغرضينو سره ددوي كلك تړون هم څرګندېږي چي څر نګه له بو ځاي او بل ځاي نه بياهم دبهرنيانو دګټو او هم ددوي په غوښتنه او ټينګار سره راټولېږي او دافغانستان دثبات او استحكام دكمزوري كولو دپاره پلانونه جوړوي. افغان ولس خو په دي ښه پوهېږي چي مخالفه جبهه نوره بېخي له منځه تللې اونه شي كولاي كوم دپام وړبدلون رامنځ ته كړي خو هغه څه چي هيواد والو ته داند ېښني وړاو بهرنيو دښمنانو ته ډېره دخوښي خبره ده همدا دثبات او استحكام دكمزوري كېدوخبره ده چي هيواد له پرمختګ نه پاتي كوي او خلكو ته دكار او بيا ودانولو موقع نه وركوي. زموږ دښمنان هم له مخالفينو څخه دهمدي خدمت غوښتونكي دي . هغوي غواړي چي د افغانانو كړاوونه لاهم دوام و مومي او دتل لپاره په فقر ، بدمرغي او ناخوالوكي پاتي وي. دافغانستان ګرد وګړي په دي هم ښه پوهېږي چي اسلامي امارت هيواد له تجربي وژغوره ،په بې ساري قرباني سره يې نظم او ثبات راووست او ملوك الطوائفي يې ختمه كړه په دي لړكي چي څومره ستونزي پاتي دي لاهم پرله پسي كار زيار او قرباني غواړي. انشا ءالله هغه ورځ به لري نه وي چي دغه مشكلات به له بوي مخي له منځه ولاړشي او افغانان به په ډاډه زړه دهيواددسمورتيا په لورګامونه اخلي .

يوه مهمه فريضه چې ترې غافل يو

فاروق

داخو يو طبيعي او فطري اصل دي چي هرانسان او بلكي هر حيوان دخپل مسكن او ټاټوبي نه دفاع كوي او تروسه وسه هغو ګواښونو سره مقابله كوي چي په خپل كوركي يې ورځني چاري او ژوند ني خپلواكي تهديد وي او يا يكي يې ځايه لاس وهنه كوي او داځكه چي خپل ځان ته بوه اندازه آزادي او خپلواكي ساتل هم يو فطري خصلت دي خوله دي سره سره داسلام سپيځلي دين هم په كلكه داحكم كوي چي مسلمان بايد دخپل اسلامي هيواد دفاع اوساتنه وكړي ترڅو كولاي شي په آزاد ي سره خپل ديني شعائر پرځاي په خپلواكي سره دژوند ورځني چاري ترسره او دخپل مزاج سره سم كاراو ګټه وكړي او خپل ژوند پري سمبال كړي دخپلودغو حقوقو نه دفاع كول يوه لويه فريضه ده چي لوي خداي جل جلاله يې په ټينګار سره مسلمانان پري مكلف كړي او ويلي يې دي ترجمه » او دوي ته (دكفاروسره دجګړي او دفاع لپاره) موچي څومره وس رسېږي قوت برابر كړي «انفال - دالله تعالي ددغه فرمان له مخي پرمسلمانانو فرض دي چي دخپلي دفاع او الهي دين دتطبيق او خپراوي دپاره ښه ډېر قوت او وسايل تيار كړي دقوت مفهوم هم دبو نبوي حديث نه دوبشتلو په مانا راغلي او نن سبا خو دغه مطلب بېخي ښه څرګند دي ځكه چي په جګړوكي اساسي وسله ويشتلو آلات دي توپونه ، توغندي ، جنګي الوتكي داټول همدابو كاركوي چي وېشتل دي دجګړو او يا خپلي دفاع لپاره چي دااوس په روانه پېړي كي كفري نړي څومره پرمختګ كړي او حيرانوونكي وسايل يې جوړ كړي اسلامي امت يې بو مخ دخپلي آزادي او حريت نه يې برخي كړي او دادي داسلام څرګندا ومعلوم شعائر نه شي ترسره كولاي كفارو كه له بو ي خوايه نظامي برخه كي ډېر څه كړي نوله بلي خوايي نشراتي او خپرندوي وسائل هم څه نيمګړي نه دي او له همدي كبله يې بر ټوله نړي راج چلېږي ، ملګري ملتونه ددوي دي ،امنيت شوري او دوبټوحق ددوي او دډروي او بيا لوژيكي وسلو واكمني له دوي سره ده له بده مرغه موږ مسلمانانو هغو علوموته شاوراړولي چي دغه شان ټكنالوژي پري لاس ته راوړي شوا و طبيعي او تجرباتي علوم چي نن سبا دساينس په نامه بلل كېږي له بوي مخي كفاروته ورپاتي دي په دي ډول موږ دهغي لويي فريضي نه غفلت او بې پروايي كړي چي لوي خداي ورباندي مكلف كړي بو الله تعالي خو په واضح ډول ويلي چي قوت جوړكړي ترڅوخپل دښمنان او دالله عزوجل ددين دښمنان پري ووېر وي خو موږ چي دامسؤليت سرته نه دي رسولي نو ځكه خو كفارهم سري سترګي رابانديراځي موږ ږني سترګي او وازي خولي نيولي او ددوي الوتكي مويه سر ګرځي او هيڅ داسي وسايل نه لروچي خپله دفاع وكړو او خپل حريت او استقلال وساتو حقيقت خودادي چي اسلامي نړي داپابلات په هغه روغ كړي چي كله يې طبيعي علوم او تجرباتي څېړني نوروته پرېښودي او په خپله يې دبي ماناداو پو چوفلسفي بحثو نو نغري تودكړ . زموږ داسلامي نړي مدرسي اوس هم دطبيعي علومو او ساينس پرځاي هماغه دمنطق او فلسفي لمن نيولي چي نه يې پخوا څه تري ګټلي اونه بهله دي وروسته څه تري واخلي نويه دغسي حالاتوكي چي ساينس او تخنيك مويه بشپړ ډول كفاروته ورپرېښي وي ، هيڅكله امكان نه لري چي خپل حريت او استقلال وساتو او يا په ښه توګه له اسلامي شعائرو دفاع وكړو موږبايد لږخپل شاو خواته وګورو ، دخپلي بدي ورځي اوكمزوري اسباب پيدا كړو او په داسي لارو حركت وكړو چي هغه دسرلوري نېكمرغي او خپلواكي دګټلو لاروي په دغه علمي خوځښت كي خو ټوله اسلامي نړي ډېره وروسته پاتي ده ، مګر موږ افغانان چي شل كلنو جګړوهم ځپلو او دسيالانو له كتاره ډېر وروسته يو بايد په جدي ډول خپله پاملرنه علم او تجربي ته راوګرځو ترڅوژر تر ژره خپلي نېګړ تياوي لري او دپر مختګ په لارروان شو او س موږ ته په كارده چي داحساساتو او جذباتو دجوش نه دعقل او واقعيت هوش ته راشو او دبوه پاخه استدلال په رڼاكي دخپلو ستونزوحل ولټوو موږبايد ترهر څه مخكي داپوښتنه ځان ته متوجه كړو چي ترڅوبه له كفار سوالونه اوګدايي كوو ؟ آيا دغه خجالت دبو مجاهد او توربالي قوم سره ښايي ؟ راځي ددي مسأ لي ښه ټينګ حل ولټوو اووګورو چي په څه ډول به ځان له نړي والوسره سبال كړي سر موږمجبوراً داحقيقت منوچي بوازي او بوازي دعلم او پوهي، ساينس او تجربي له لاري كو لاي شو په بو و بشتمه پېړي كي دسرلوري او خپلواكي ژوند وكړو او صرف له همدي لاري كولاي شو دالله تعالي هغه فريضه سرته ورسوو چي دخپل دين او اسلامي خاوري دساتني او دفاع په هكله يې زموږ په غاړه اچولي ده يې له شكه دا لويه فريضه ده او زموږ دژوند ټوله سورمخي او سرلوري هم په همدي كي نغښتي ده نوراځي ټول په ګډه داالوزوكړو چي دعلم ، ساينس ، او تجربي دپرمختګ له لاري به هڅه كووچي د ښو پرمختللو وسايلو خاوندان او بيا په ښه ډول دخپلو ديني شعائرونه دفاع وكړو او راتلونكي نسلونه موهم وكولاي شي ددي لپاره خپل حريت او استقلال وساتي .

دافغانستان اسلامي امارت اودصنعتي موسسو دبيا احيا لپاره ګړندي هلي ځلي

ناصرشاه سرحدي

زموږ داسلامي هيواد افغانستان ملي سوداګر او دخصوصي سكتورخاوندان چي په عمومي توګه دراكړي وركړي دصنعتي اوتوليدي موسسو فعال ساتلو چاري په غاړه لري ،تقريبا په سلوكي « ۸۰ »دلګښتي اومصرفي مالونودوران اودهيواد دتوربد اوتوليد دپروسي دفعاليت چاري دهمدي سكتورله لاري تأمينېږي خو(۲۲) كلنه تباه كوونكي جګړه چي زموږ په مېړ ني اومجاهد ولس راتپل شوي وه دهيواد اقتصادي بنسټ ته يې سخت زيان اړولي چي دهغي جملي څخه دهيوادصنعتي مركزونوته په ملياردو افغانيونه جبېره كېدونكي خساره رسېدلي ده دي جګړي په بهېركي دتجارت اوګمركي محصولاتوفعاليتونه په ټپه ولاړو ځكه توليد دكارځوا ك اومالي سرچيني له منځه لاړي ،صادراتي اقلام لكه دقرقل پوستكي ،وچي او تازه مېوي دنيا تاتودصادراتوتصدي چي په نړيوالومار كيټونوكي يې تاوده بازارونه درلودل دتجارت وزارت په چوكاټ كي بهرنيوهيوادونوته صادرېدل چي دهيواد دملي اقتصاد په پياوړتياكي يې دبادوني وړاغېزي درلودي هم زيانمن شول داسلامي انقلاب په بريالېتوب سره دبوشمېر ماجرا غوښتونكوعناصرودبي امنيتي له كبله ملي سوداګرو خپلي سرمايي اوپانګي په خطركي ولېدي نوهماغه وچي خپلي پانګي يې بهرنيوملكونوته ولېږدولي اوپه دي ډول دهيواددخصوصي سكتورخاوندان سخت زيانمن شول اوپايله داسي شوه چي دهيواد ملي اقتصاد له سخت ركود سره مخامخ شي .

دارتيا وړلومړنيومواد ويې دتصورنه لري څوچند لوړي شوي دهيواد اكثريت خلك په تېره بيا كابل ښاريانو سخت اقتصا دي اودبي وسي كړاوونه وګالل اواغېزي يې اوس هم لېدل كېږي خو په هيوادكي دطالبانوداسلامي تحريک په بريالېتوب سره چي سږكال يې موږ خلورمه كاليزه په شاندارومراسمو ولمانځله، دهيواد دوران وېجاړ اقتصادي حالت دبيا رغاوني اوجوړوني لپاره اغېزمن ګامونه پورته شول چي څرګندمثالونه يې دپلازمېني «كابل» په شمول دهيواد په بلابېلوولايتونوكي د(۱۰۲) فابريكوتوليدي بهير له سره پېل شو دلوبولارواوسپړكونو دجوړولواوقيراچولوكارپه بېړه روان دي .دكابل ښارپه اكثروناحيوكي دبرېښنابهير تأمين شوېدي . بوي ورځپاني ، بوي مجلي اوپنځورا دبوبي دستګاوپه خپل نشراتي فعاليت پېل كړېدي ، دكابل ،غزني اوهرات په ولايتونوكي په مجموعي توګه د (٢٤٦) ماركيټونوساختمان ترلاس لاندي دي داټولي هڅي اوكوښښونه د دي ګواهي وركوي چي داسلامي امارت چارواكي دزړه له كومي غواړي چي دهيواد اقتصادي حالت دعملي اود قبقو پلانونوطرحي ته له سره سمون وركړي اودخپلوخلكودژوندانه دسطحي دلوړوالي په لاره كي جدي اواغېزمن ګامونه پورته كړي اودايي اراده كړي چي دهيواد دله كاره لوېدلوفابريكو، توليدي او صنعتي موسسو دبيا فعالولواودهغوي دتوليد دسطحي دلوړولواوښه والي په لاره كي به دهغه څه نه ډډه ونكړي چي په وس كي يې لري .

جهان ورزش

متصدی صحفه : استاد آرین خیبر

اخبـــار ورزشی داخلی

درمسابقات انتخاباتي تیم جوانان پهلواني زیر سنین ۱۸-۲۰ سال ، کلپ پهلواني عارف شهید مقام قهرماني را بدست آورد طبق پلان فدراسیون پهلواني کمیته ملي المپیک مسابقات انتخاباتي جوانان پهلواني زیر سنین ۱۸-۲۰ سال به منظور انتخاب بهترین کشتي گیران به تیم جوانان باشرکت بیش از ٦٥ کشتي گیر از ۱۱ کلپ تحت نظر فدراسیون مربوط مطابق قانون ومقرارت جدید بین المللي درستدیوم ورزشي کابل تدویر گردیده بود با چنین نتائج خاتمه یافت .کلپ پهلواني عارف شهید باگرفتن ٦٦ امتیاز مقام قهرماني را نصیب گردید .کلپ پهلواني میوند با گرفتن ٤۸ امتیاز در ردیف دوم جا گرفت وکلپ پهلواني باغبان با اخذ ۳۸ امتیاز سوم گردید واز طرف هیأت ۲۷ کشتي گیربه تیم منتخبه جوانان انتخاب شدند .

سپورت کولي شي چي انسان دهرراز بدبختیو څخه وژغوري

وایي چي« سلیم عقل په سالم بدن کي وي »په رښتیاهم په کومه اندازه چي دانسان بدن سالم وي په هماغه اندازه ،کولي شي چي دبوي بشري ټولني په بیلابیلو څانګو کي دخدمت جوګه شي .سپورت کولي شي چي انسان دهرراز بدبختیو لکه غلا، جوارګري ،او په مخدرو مواد له اختیه کېدو او نوروهغو ناوړه اعمالو چي له انساني اخلاقو سره سمون نه خوري اودانسان شخصیت کمزوري کوي اوپه خپل پاتي ژوند باندې پښیما نه کوي او دبدبختیو په کندوکي بي غورځوي ژغوري .

دبوه مجرب ورزش کاربدن دبیلابیلو ناروغیو په مقابل کي تر ډېره حده مقاومت کولي شي او همداسي سپورت دروحي ستونزوپه تداوي کي خورا مهم رول لوبوي همدالامل دي چي دسایکولوژي علما همیشه روحي ناروغانو ته دسالم مصروفیت هدایت ورکوي لکه سپورت،هرورزش کارهمیشه پدي تېنګار کوي چي ځان دهرراز ناوړو اعمالو څخه وژغوري .

څکه چي دسالم بدن درلودونکي وګړي دبوي سالمي اداري په جوړو لو سره کولي شي خپلي ټولني ته او دټولني دوګړو لپاره دبدامني پرځاي امن دجګړوپر ځاي سوله ددښمني پرځاي اخلاص او دغلامي پرځاي استقلال ساتنه اوآرام ژوند چي دهرمسلمان وګړي غوښتنه ده ډالي کړي دافغانستان اسلامي امارت هغه امکانات چي په لاس کي لري هغه بې دورزش مینه والو او ورزشکارانولپاره برابر کړي . هغه څه چي په ورزشي بهیر کي پرابلم جوړ وي دهغو مشکلاتو په لري کولو کي ژرتر ژره اقدام کوي .دا.ا.ا. سپورت ته ځانګړي پاملرنه لري اوتل په دي تکل کي دي چي ورزشکارانو ته لاښه دورزش زمینه برابره کړي ترڅو دصمیمیت او ورورګلوي په فضا کي – خپلي سپورتي چارې ترسره کړي .

اخبار ورزشي کاراته

مسابقات کاراته که به اساس پلان وپروګرام سال ۱٤۲۱ هـ ق فدراسیون مربوط جهت ګزینش کاراته کاران نخبه براي تیم هاي ملي وجوانان باشتراك ۹ تیم از تیم هاي مؤسسات امارتي ، کلپ هاي آزاد شهرکابل وکاراته کاران مهاجر افغاني مقیم پشاور بتاریخ ۲٤ جمادي الآخر مطابق اول میزان ۱۳۷۹ در ستدیوم ورزشي کابل دایر ګردید . بعداز ارزیابي دقیق هیئت تدویر مسابقات نتایج آتي بدست آمد. درتیم جوانان :

۱- کلپ فول کانتاکت استاد آرین خیبر بااخذ ۳۸ امتیاز در سکوي قهرماني (مقام اول) قرارګرفت.

۲-کلپ اردو با اخذ ۲۸ امتیاز مقام دوم را بدست آورد .

۳- کلپ فول کانتاکت استاد عبدالمحبوب سروري با کسب «۲۲» امتیاز حایز مقام سوم ګردید .

درتیم ملي :

۱- کلپ میهن با ګرفتن «٤۳» امتیاز در سکوي قهرماني قرارګرفت .

۲- کلپ خوشحال قریش با ګرفتن «۱۷» امتیاز مقام دوم راکمایي کرد .

۳- کلپ افغان سرفراز بااخذ «۱٤» امتیازمقام سوم را بدست آورد .

دربخش شوتوکان درتیم ملي ۱۲ نفر ودر تیم جوانان ۹ نفر از انجمن کاراته شوتوکان استاد محمد الدین «معارج» انتخاب ګردید. همچنان جهت بهبود هرچه بیشتر ورزش کاراته محترم نجیب الله حسیني بحیث رئیس افتخاري فدراسیون کاراته انتخاب ګردید.

بوکسنګ

مسابقات انتخاباتي بوکسنګ که به اساس پلان فدراسیون مربوط کمیته ملي المپیک جهت انتخاب بوکسر ان نخبه براي تیم جوانان بین کلپ هاي ومؤسسات ورزشي بتاریخ ۲٦ جمادي الاخرمطابق ۳ میزان ۱۳۷۹ به اشتراك ۲۰۰بوکسر جوان در ستدیوم ورزشي کابل تدویر یافت .

وجیزه :زورمندي وتندرستي را از آغاز جواني بوسیله ورزش براي روزګارپیري انبارکنید تاآنکه درپایان عمر سست راي و سست کار وفرسوده نه شوید .

درمسابقات انتخاباتي کونګ فو

درمسابقات انتخاباتي که تحت نام جام استقلال برګذارشد . انجمن کونګ فوهنررزمي ذوالفقار با ګرفتن ۳۳۰ امتیاز حایز مقام قهرماني ګردید . طبق جنتري ورزشي فدراسیون مربوط کمیته ملي المپیک مسابقات با اشتراك کلپ هاي آزاد ورزشي وموسسات ورزشي در سالون آریوب تنداري را اندازي ګردید مسابقات با چنین نتایج خاتمه یافت انجمن هنررزمي ذوالفقار با ګرفتن ۳۳۰ امتیاز حایز مقام قهرماني وبرنده کپ اولي وکلپ رزمي توحید در ردیف دوم قرارګرفت درختم مسابقات تحایف ،جوایز ،مدال ها کپ ها ودیپلوم ها ي ورزشي توسط مسولین المپیک براي برنده ګان مسابقات توزیع ګردید .طبق یك خبر دیګر بخاطر بهبود وضع ورزشي رشته هاي مختلف سپورتي لزوم دید ریاست عمومي المپیک ذوات اتي بصفت روساي افتخاري فدراسیون هاي ورزشي تعین ګردیدند .

۱- محترم محمد نادر «ودید» بحیث رئیس افتخاري فدراسیون بایسکل راني

۲- محترم ملا میرزمان «یاور» بحیث رئیس افتخاري فدراسیون تکواندو

۳- محترم نجیب الله «حسیني» بحیث رئیس فدراسیون کاراته .

٤- محترم مولوي محمد سلیمان بحیث رئیس افتخاري فدراسیون فتبال

٥- محترم ملا نجیب الله بحیث رئیس افتخاري فدراسیون کرکت

بازی های المپیای جهان

المپ، نام منطقه ایست در یونان قدیم که محل برګزاري بازي هاومسابقات ورزشي بوده این منطقه درغرب «پیلوپوتیز» دردره «ایلیس» واقع است .دراین منطقه معابد زیادي وجود دارد که یکي آن «المپیوم» یاد میشود . دراوایل بازي هاي المپیا درهرچهارسال یکبار بمشابه جشن باشکوه ملي یونان قدیم برګزار میګردید. موقع تدویر مسابقات ورزشي بین اوایل اګست واواسط ماه سپتمبر بود ، مدت برګزاري المپیا در آغاز یکروز ولي بعدها به ٥ تا٦ روز ازدیاد یافت .آغازتدویر مسابقات المپیا هنوز درست روشن نیست ، اما اولین سندکتبي که در ۷۷٦ ق م درقسمت آغاز وانجام آن بدست آمده است میرساند که در آن وقت مسابقات پر چوکات « دوشهاي کوتاه «وسپس» دوشهاي فاصله داري » دایر مګردید . به تعقیب آن «نیزه اندازي» اسپ دواني » «د سك اندازي »وغیره نیز معمول ګردید .قرار یادداشتها واسنادي که وجوددارد ، شرکت کنندګان مسابقات المپیا قبل از آغاز مسابقات ده ماه مسلسل تمرین میکردند واعضاي هیئت هاي شرکت کننده سوګندیاد میکردند که وظیفه خویش را به پاکي وصداقت انجام میدهند ، تمرینات را درست اجراوقواعد بازي ها را رعایت میکنند درختم بازي ها ومسابقات به قهرمانان تاجي که از شاخه هاي زیتون وحشي از درختان جنګل معبد «زوس» یافته میشد داده میشد این بازیها که در ۷۷٦ق . م آغاز وتاسال ۳٥۳ ق .م. همه ساله در ان دایر میګردید بنابرجنګهامتوقف والمپیك معاصر از سال ۱۸۹٦ دوباره به فعالیت آغاز کرد وتا امروز ادامه دارد .

دنړیوالو المپیکي لوبو ۲۷ دورپاي ته ورسید

دنړیوالو المپیکي لوبو ۲۷ دورچي دآسترلیا دسدني په ښار کي ترسره شو دتیري یکشنبي په ورځ دشاندارومراسمو په ترڅ کي دڅه دپاسه سلو زرو لیدونکو په حضور کي پداسي حال کي چي دنړي لسوزرو ورزشکارانو په کي برخه درلوده پاي ته ورسیدي .دغولوبو په وروستني ورځ کي دنړیوال المپیک عمومي رئیس « خوان انتو ني سماراج » په داسي حال کي چي دالمپیا مشعل مخ په مړکیدووه ددوه زرم میلادي کال دالمپیک لوبو ته یې دپاي ټکي کیښود . ددغولوبو په ترڅ کي دنړي ټولو نخبه ورزشکارانو په ۲۸ ورزشي لوبو کي له یو بل سره سیالي وکړي نوموړي دنړي په ټولو ورزشکارانو باندي درا تلونکي ۲۰۰٤ میلادي کال دالمپیک داته ویشتم دوردچمتووالي پخاطر غږوکړ ترڅو راتلونکي سیالي لاښه سمون ومومي . ده زیاته کړه دسدني المپیک چي دنړي دټولو هیوادونو دبرابري ، یووالي او دخکي پرمخ دسوکاله ژوند پیغام یې درلود تراوسه پوري یې دالمپیا په تاریخ کي ساري نه و لیدل شوي .په دغه المپیک کي چي ۱٦ ورځي یې دوام وکړ دنړي څه دپاسه لسوزرو ورزشکارانو د۱۹۹ هیوادو څخه په اته ویشتو لوبو کښي برخه درلوده چې دسدني په ۱۳ ستدیوموکي یې په خپلو منځو کي لوبي ترسره کړي . ددغه المپیک نتایج په داسي دول ؤ دامریکا متحده ایالاتو دسروزرود ۳۹ مډالونو په اخستوسره لومړي مقام ترلاسه کړروسیي دسروزرو د ۳۲ مډالونوپه اخستوسره دوهم مقام خپل کړ،او چین دسروزرو د۲۸ مډالونو په اخستوسره په نړي کي دریم مقام ترلاسه کړ.

داصحابو دژوند پلوشې ۲۷

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا – مترجم : بشار

عبدالله بن مسعود د رسول الله «ص» په کور کې وروزل شو ، او د هغه په سنت او طريقه روان او د هغه په ښو اخلاقو ښکلی شو ، او په هر خصلت کې د هغه تابع او پيرو وګرځيد تر دې چې ورڅخه داسې يادونه وشوه : هغه د خلکو په نسبت د هدايت او اخلاقو له حيثه رسول الله «ص» ته نژدې و .

عبدالله بن مسعود د رسول الله «ص» په مدرسه کې زده کړه وکړه تر دې چې د نورو اصحابو په نسبت د قرآن ښه قاري او د قرآن د معنا او د الله د شريعت په باب ډېر ښه عالم او پوه وګرځيد .

له دې څخه بل ښه او قوي دليل نشته چې يو سړی عمر بن الخطاب ته چې د عرفات په ميدان کې ؤ راغی او ورته يې وويل : ای اميرالمؤمنينه ! زه له کوفې څخه راغلم او هلته مې يو سړی پرېښود چې د زړه له ياده د مصاحفو ليکل کوي .

عمر ډېر په غصه شو او ويې ويل : افسوس دی تا ته ، هغه څوک دی ؟ هغه وويل : عبدالله بن مسعود .

بيا د عمر غصه مخ په کرارېدلو شوه ، او چې پخپل عادی حال شو نو ويې ويل : افوس دی تا ته ، په الله سوګند ، د خلکو څخه بل داسې څوک نه پيژنم چې هغه ددغه کار لپاره ډېر وړ وي او زه به تا ته د هغه بيان وکړم .

عمر خپله خبره پيل کړه او ويې ويل : يوه شپه رسول الله «ص» د ابو بکر سره ؤ او دواړو د مسلمانانو په باب خبری کولې ، او زه هم د هغو سره وم . بيا رسول الله «ص» بهر ووت ، او موږ هم ورسره ووتلو ، او وينو چې يو سړی په مسجد کې لمونځ کوی ، او هغه نه پيژنو چې څوک دی نو رسول الله «ص» ورته غوږ ونيو او بيا يې موږ ته وکتل او ويې ويل : که څوک غواړی چې قرآن څنګه چې نازل شوی تازه ولولی نو د ابن ام عبد په قرائت دې يې ولولی .

بيا عبدالله بن مسعود کښيناست او په دعا شو ، او ر سول الله «ص» ورته وويل : وغواړه درپه کړ شی ، وغواړه درپه کړ شی .

بيا عمر وويل : ما په زړه کې وويل : په الله سوګند ، زه به سبا خامخا عبدالله بن مسعود ته ورځم ، او هغه به خبروم چې رسول الله «ص» د هغه پر دعا امين ويلی : بيا سبا ورغلم ، او ورته مې زيری ورکړ ، ګورم چې ابوبکر له ما څخه پخوا هغه ته زيری ورکړی و په الله سوګند ، زه په هيڅ يو ښه کار کې له هغه څخه مخکې شوی نه يم .

د قرآن په باب د عبدالله بن مسعود علم تر دې اندازې ؤ چې هغه به ويل : په الله سوګند ، د کتاب الله هيڅ يو آيت نه دی نازل شوی مګر زه پوهيږم چې هغه چيرته نازل شوی او پوهيږم چې په څه باب نازل شوی دی او که زه وپوهيږم چې د کتاب الله په باب له ما څخه بل کوم ښه پوه دی نو څه چې مې وسه وای هغه ته به مې ځان رسولای وی .

عبدالله بن مسعود په هغه څه کې چې د خپل ځان په باب يې ويل هيڅ مبالغه نکوله .

دا عمر بن الخطاب «رض» دی چې د خپلو سفرونو په يوه سفر کې د يوې قافلې سره مخامخ کيږي او د شپې تياره چې پر قافلې باندې خيمه وهلې ده او په قافله کې عبدالله بن مسعود هم ؤ يوه سړي ته امر کوي چې کاروانيانو ته غږ وکړي .

سړي غږ کوی او داسې پوښتنه کوی : دغه قوم د کوم ځای دی ؟ عبدالله ځواب ورکړ : ژوری وادی څخه .

عمر وويل : چيرته ځی ؟ عبدالله وويل : پخوانی معزز کور (بيت الله) عمر وويل : په کاروانيانو کې عالم شته .

عمر بيا يو سړی ته امر وکړ چې کاروانيانو ته غږ وکړی او پوښتنه وکړی چې د قرآن کومه برخه ډېره لويه ده

سړی کاروانيانو ته غږ وکړ او دغه پوښتنه يې وکړه : د قرآن کومه برخه ډېره لويه ده عبدالله ځواب ورکړ : «الله لا إله إلا هو الحی القيوم لا...» عمر سړی ته امر وکړ چې کاروانيانو ته غږ وکړی چې د قرآن کومه برخه ډېره حکمت لرونکې ده .

سړی غږ وکړ او داسې پوښتنه يې وکړه :

د قرآن کومه برخه ډېره محکمه او حکمت لرونکی ده . عبدالله وويل : «ان الله يأمر بالعدل...» عمر وويل پوښتنه وکړه چې د قرآن کومه برخه ډېره جامعه ده ؟ سړی پوښتنه وکړه او ويې ويل : د قرآن کومه برخه ډېره جامعه ده ؟ عبدالله ځواب ورکړ او ويې ويل : «فمن يعمل مثقال ذرة ...» عمر وويل هغو ته غږ وکړه چې د قرآن کومه برخه ډېره هيله منه ده .

سړی غږ وکړ : د قرآن کومه برخه ډېره هيله منه ده ؟ عبدالله وويل : «قل يا عبا دی الذين ...» عمر سړی ته وويل : پوښتنه وکړه چې ايا په تاسو کې عبدالله بن مسعود شته ؟ سړی پوښتنه وکړه او ويې ويل : آيا په تاسو کې عبدالله بن مسعود شته ؟

هغو وويل : هو په موږ کې عبدالله بن مسعود شته .

باقي لری

دیهقرنیو چارو ...

امارت دریغ له پیل څخه سوله او د مثال په توګه کولاي شو د هیواد ټولو کې پنځه نوي خاوره کې د سولي او امنیت تامینول یاد کړو ده زیاته کړه د افغانستان اسلامي امارت د هیواد لوړو ګهړه د خپلو خلکو د سوکالي د په پام کې نیولو ـــــ او د ملګرو ملتو له هڅو سره د مرستي لپاره محترم ملا امیر خان متقي د مرکې چې په توګه ټاکلي دي چې د افغانستان د سولي په خبرو کې فعاله برخه واخلي چې دا په خپله په حقیقت کې د افغانستان د اسلامي امارت له سوله نیز دریغ او موقف څخه نمایندګي کوي خوله خبرو اترو سره باید ژبنتولي او صداقت ملګري وي . محترم متوکل د خپلو خبرو په دوام هیله څرګنده کړه چې د نړي هیوادونه باید بشر دوستي د احساس له مخي زموږ له خلکو سره چې دو چکالي له امله له زیانو ستونزو سره مخامخ دي مرسته وکړي همدارنګه دوي د نړیوالو او سیمه ییزو مسئلو په باب زیاتوالي د افغانستان د اسلامي امارت په وړاندي بي د ځینو هیوادو د ټولو کړنلاره مشبته وبلله

دکورنیو چارو ...

و نظامونو په پرتله بیان کړ . وروسته د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین محترم ملا خاکسار آخند د دغه سیمینار ارزښت د نوموړي وزارت چارواکو او مسوولینو د بلوتیا او روښانتیا په اړه د کورنیو چارو وزارت د اړوندو ارګانونو د قوانینو او مقررو په اړه څرګند کړ . وروسته د ریاست الوزرا اداري مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند د خپلو خبرو په ترڅ کې د مسلمانانو مسوولیتونه او د ندي د اسلام د مبین دین له نظره څرګند کړل او وي ویل که چیري په یوه کورني کې ټولي ستونزي حل وي خو د اشخاصو افرادو او غیر مشخص صلاحیتونه معین نه وي د غه کورني نظام په لږ وخت کې ګډوډیږي او له منځه به ولاړ شي . ده زیاته کړه د ولایت ولسوالي قوماندانی او ا مثال بي د نوم او نشان د اخستلو لپاره نه وي بلکي په حقیقت کې هغه ستر مسوولیت دي چي باید اړوند مسوول هغه ته پاملرنه وکړي او د خلکو خدمت د خپلو د ندو په سر کې و ټاکي وریسي د کورنیو چارو وزارت اداري معین محترم مولوي نورجلال جلالي د سیمینار د ګډون کوونکو پام اسلامي د ندو ته واړوه او د دوي برخه اخیستنه یي د هیواد د نافذه قوانینو په تطبیق او پلي کولو کښي ګټوره وبلله د سیمینار له غرمي مخکي غونډه کي د عدلیي وزارت دیپلهني ریاست مرستیال محترم سید یوسف حلیم او د سیمینار له غرمي وروسته غونډه کي د عدلیي وزارت د تقنین دلوي ریاست مرستیال محترم محمد انور ندیم . د کورنیو چارو وزارت د اړوندو ارګانونو د ځینو اسنادو او تقنینو نو اساسي شاخصونو او جزئیاتو په اړه توضیحات ورکړل او د سیمینار د ګډون کوونکو پوښتنو ته یي قناعت بخښونکي ځوابونه وویل دغه سیمینار دوه ورځي نور هم دوام لري .

د افغانستان سفیر ...

ملتو د سازمان د بشري مرستو ناظم ته د نورو خبرو په ترڅ کي له وچکالي څخه د را منځته شویو ستونزو په اړه وویل : دوچکالي له امله د هیواد د بزګرانو ۹۰٪ د کرني حاصلات له منځه تللي په سلګونو څاروي د او بود

نشتوالي له امله مړه شوي او د هیوا د خلک په بیلابیلو ناروغیو اخته شوي دي . څکه نو د ملګرو ملتو بشري مرستي په اوسنیو شرایطو کي موجوده ستونزو ته په کتني سره کافي نه ګڼل کیږي او د ملګرو ملتو سازمان باید په نړیواله ټولنه فشار واچوي چي د افغانستان له اتل ملت سره خپلي بشري مرستي زیاتي کړي او عاجله مرسته وکړي . دواړو خواوو د ملګرو ملتو د امنیت شورا د لګول شویو بندیزو نو د ناوړه اغیزو په باب خبري اتري وکړي او د افغانستان لپاره د بشري مرستو ناظم وویل چي د ملګرو ملتو د امنیت شورا له خوا لګول شویو بندیزونو د افغانستان په خلکو ناوړه اغیز د کړي او زه هڅه کووم چي له دي نه زیات بندیزونه په افغانستان باندي ونه لګول شي او اوسني بندیزونه هم لیري شي .

مدیر اموسي ...

وشو په بیلابیلو کرنیزو او مالداري څانګو کي د دغي موسسي دلاړیرو همکاریو غوښتنه وشوه . وروسته د دغي موسسي یو تن مسوول له هغو لازمو اسانتیا و څخه چي د بهرنیو او نړیوالو موسسو لپاره د افغانستان د اسلامي امارت له خوا برابر شوي قدرداني وکړه . د دغي موسسي د همکاریو په هکله یي د افغانستان د ځنګلو نو د بیا احیا د کابل د شنه کمربند د کار طرح او اجرا د دول دول حیواني واکسینونو تولید او په افغانستان کي د وچکالي د ستونزي لپاره د لارو چارو د لټولو په باب تباري وښودا و څرګنده یي کړه چي د مدیر اموسسه په پام کي لري چي د بیلا بیلو پروژو د کولو نو په لاسلیکولو سره خپل فعالیت ته پراختیا ورکړي او د مخکنیو پروژو کولو نو موده زیاته کړي .

په یوګوسلاویا ...

څو اونورو ښارونو کي خپلو غونډو ته دوام ورکوي د یوګوسلاویا رسمي خبري آژانس یاتا یونګ چي مخکي یي د غه هیوادا د واکمن رژیم ته پلوي کوله اوس یي د حکومت د مخالفینو مشر د نوي ټاکل شوي جمهور رئیس په توګه اعلام کړي او له یوځي او امنیتي ځواکونو څخه یي غوښتي دي چي په سوله نیزه توګه واک په لیږد ولو کي مرسته وکړي د یوګوسلاویا اردو تراوسه پوري د حکومت او مخالفینو ترمنځ شخړه کي یي پري پاتي دي . له بلي خوا د یوګوسلاویا د اردو یوځي مقامونو او لوي درستیزیوه مشورتي غونډه کړي او په شخړه کي یي خپله یي طرفي اعلام کړي ده ځینو خبري سرچینو دوینا له مخي د یوګوسلاویا جمهور رئیس سلوبودان میلو سوویچ له بلګراد څخه تښتیدلي دي او د غه په باب پوره معلومات په لاس کي نشته . خبرزیاتوي چي سلوبو دان میلوسوویچ او د حکومت د مخالفینو ترمنځ په وروستیو نښتو کي دوه تنه وژل شوي او څو تنه نور ټپیان شوي دي د یو بل خبر له مخي ټاکل شوي ده د یوګوسلاویا په پایتخت بلګراد کي یوه اضطراري کمیټه جوړه او د عامه امنیت د تضمین په خاطر واګي په لاس کي ونیسي .

دهلمند ولایت ...

ولایت له محبس څخه کتنه وکړه او د بندیانو د اړوند ودوسیو له څیړلو څخه وروسته یي ۱۷ بندیان چي د هغو له جملي څخه دیارلس تنه حقوقي او یوتن په وژنه او دوه تنه توریه غلا تورن و او وروسته له دي چي اړوند ي دوسیي یي وڅیړل شوي د دغه ولایت له محبس نه خوشي شول .

معاون اداره پست وزارت ...

ازاین روزجهاني مصاحبه رابا محترم محمد سلیم معاون اداره پست وزارت مخابرات انجام داده است که خوانش ان براي هریك ازشما عزیزدوستان خالي ازدلچسپي وآګاهي نغزنخواهدبود :

درآغازمحترم معاون اداره پست دررابطه به چګونګي پروسه مراسلات پستي درکشوراینګونه توضیحات دادند :

علي الرغم تعزیرات اقتصادي شوراي امنیت ملل متحد بالاي افغانستان هم اکنون مراسلات پستي ماازطریق اداره پست دولت پاکستان با ۱۸۹ کشورجهان تامین میباشد . قبلا پست بین المللي افغانستان بوسیله پروازهاي «دارپانا افغان هوایي شرکت» ازطریق دبي به سایر کشورهاتامین میګردید . اما ازصدورتعزیرات بدینسوطبق موافقتنامه وزارت مخابرات ا.ا.ا واداره پست دولت پاکستان این پروسه ازطریق اداره پست کشور پاکستان وهمکاري ۲٤ دفتر پست بین المللي درسراسر جهان تامین میګردد .

البته خریطه هاي پستي ما که هفته دومراتب (یکشنبه وپنجشنبه)بااداره پست دولت پاکستان تبادله میګردد باوصف محرمیت ومصؤنیت خویش مزین به لیبل افغانستان بوده که در وقفه ٤ - ۱۰ روزازآنجابه دورترین نقاط ګیتي به شکل مستقل ارسال میګردد .

وي افزود : همین حالا به شمول کابل باتمام ولایات تحت حاکمیت ا.ا.ا شبکه پستي ما تامین بوده و هفته دومرتبه هوایي وزمیني تبادله پستي با ولایات داریم که دروقفه ۲٤ - ۷۲ ساعت مراسلات ولایتي ما بدون تقلیل ارسال میګردد . نامبرده علاوه نمود : فعلا درسطح شهرکابل ۲٦ پسته خانه فعال داریم که هفته وار حدود ۳۰۰ - ۵۰۰ کیلوګرام پست صدوري به خارج ازکشور ارسال میګردد ، هکذا از طریق بندر اسلام قلعه هرات هفته دومراتب مراسلات پستي ما با دولت ایران به شکل مستقیم تبادله میګردد.

ازجانب دیګر بخش پست بکس این اداره بامصؤنیت کامل فعال بوده که همین حالا ۲۷۰۰ شماره پست بکس تنها در مرکز وزارت مخابرات باز داریم . باید ګفت که تکس با اجرت ماهوارفي شماره پست بکس در مرکز ٤۰۰۰ افغاني تثبیت بوده آنعده از هموطنان ما که در شهر کابل آدرس مشخص نداشته باشند میتوانند جهت دریافت مرسلات دوستان شان با مصوئنیت واطمینان خاطر یك شماره پست بکس درمرکز این اداره براي خویش افتتاح نمایند . درمورد ارسال پارسل ویا بسته هاي کوچك باید ګفت که اداره پست پارسل الي ۲۰کیلوبسته کوچك را الي یك کیلو مطابق مقررات بین المللي پست واصول ګمرکي ا.ا.ا. با محرمیت وسرعت قابل ملاحظه درچهار ګوشه دنیا ګسیل میدارد.درآخیر معاون اداره پست اضافه داشتند :مطابق قانون سرمایه ګذاري درکشور وزارت مخابرات درنظر دراد تا درین تازګي ها براي اولین بار شبکه پست سریع افغانستان را در اختیار اشخاص انفرادي و متشبثین خصوصي قرار دهد که درین زمینه کار بالاي این پروژه جریان دارد ، باید علاوه نمود که موقعیت کاري این پسته خانه ها متصل غرفه هاي پستي و زرات مخابرات ایجاد خوهد شد ، ضمناً تسهیلات وامتیازات پست سریع افغانستان در مقایسه باپسته خانه هاي وزارت مخابرات در میزان تفوق قرار خواهد داشت .

دننګرهار ولایت ...

ګامونه اخستي او په زره پوري کارونه یي کړي دي دبیلګي په توګه د ښارداکترو ناحیو پر سرکونو یي جغل اچولي او ترمیم کړي یي دي . ځیني پارکونه یي هم ترمیم کړي او د عمومي سرکونود دواړو غاړو لښتي یي هم په پاخه او اساسي ډول جوړکړي دي د غه راز دننګرهار ولایت ښاروالي د خپلو اړوند څانګو لپاره د یوي ودانۍ د جوړو لو کارهم پیل کړي چي په ډیر نږدي وخت کي به پاي ته ورسیږي د غه راز د ښاروالي د ودانۍ د ترمیم او رنګمالي چاري هم په دي نږدي وختو کي د ۵۰ ملیونو افغانیو په لګښت سره بشپړي شوي دي . دي زیاتوي : موټر دننګرهار ولایت د ښاروالي په چوکاټ کي د یوه پنځه پوړ یزه مارکیټ د جوړو لو کار هم په پلان کي نیولي او په نږدي وخت کي به یي د جوړو لو کار پیل کړو . همدارنګه موټر په پام کي لرو چي دننګرهار ولایت ټول مارکیټونه بیا له سره په پاخه او اساسي ډول جوړ کړو . په پاي کي دننګرهار ولایت د ښاروالي رئیس محترم حافظ محمد داسي وویل : موږ په پام کي لرو چي د دغه ولایت ځیني سرکونه په پاخه او اساسي ډول جوړ کړو په دي اړوند مو د یا کوراموسسي سره یو قرار داد هم لاسلیک کړي اعملي کار به یي په دي نږدي ورځو کي پیل شي په دي کاربه جمعاً دري ملیارده او دوه سوه ملیونه افغاني ولګول شي .

بمنظورانتظام بهترامور امنیتي در مربوطات ولایت تخار: جلسه یي در شهر تالقان تدویر یافت

کابل باختر

بمنظور انتظام بهتر امور امنیتي درمربوطات ولایت تخار دیروز جلسه در شهر تالقان مرکز آن ولایت تدویر یافت این جلسه که تحت ریاست محترم قاري احمد الله رئیس عمومي استخبارات تدویر یافته بود محترم ملا عبدالحق وثیق معاون ریاست عمومي استخبارات محترم مولوي سلطان محمد مفکر رئیس استخبارات ولایت کابل ومحترم مولوي غلام دستګیر رئیس پیژندو ریاست عمومي استخبارات پیرامون موضوع صحبت نموده ازهمکاریهاي مردم ولایت تخار در تامین امنیت مطمئن در آن ولایت به قدرداني یاد آوري نمودند سپس محترم قاري احمد الله ضمن ارزیابي کار جلسه ابرازداشتند بعدازفتح ولایت تخار توسط مجاهدین اردوي اسلامي امنیت مطمئن دراین ولایت تامین بوده ودشمن مجال آنرا نداره که صلح وامنیت مطمئن نافذ درا ین ولایت را مختل سازد . زیرامسوولین نظامي وامنیتي ازهمکاري بیدریغ مردم ولایت تخار برخوردارمیباشند . درین جلسه محترم مولوي شرف الدین رئیس استخبارات ولایت بلخ محترم مولوي تاجمیر رئیس استخبارات ولایت ننګرهار محترم مولوي یاسین آغارئیس استخبارات ولایت کندز محترم ملا عبدالهادي رئیس استخبارات ولایت سرپل محترم مولوي نورالدین رئیس استخبارات پولیس و محترم ملا صبرویس رئیس استخبارات ولایت بغلان اشتراك نموده بودند

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

محترم مولوي محمد سلیم «حقاني»...

شما عزیز دوستان را به خوانش آن فرامیخوانیم : در نتیجه چارسال امرونهي موظفین این وزارت میان مردم ګفته میتوانیم که هم اکنون ۸۵ فیصد اصلاحات در بین افراد جامعه بوجود آمده است . این مطلب را محترم «حقاني» در آغاز صحبت خویش به خبرنګار ما اظهار داشته افزود :قبل از حاکمیت تحریك اسلامي طالبان در کشور نوشیدن شراب ، فحاشي ، استعمال زنان درمحافل سرودوجشنواره ها به عنوان رقاص وآواز خوان ، نشرموسیقي مبتذل وپروګرام هاي ارا جیف از طریق دستګاهاي نشراتي حکومات وقت ، برګزاري محافل عروسي مختلط از زن و مرد به شکل مبتذل درهوتل هاي شهر ،مستولي ورایج بودن بي حجابي زنان در ادارات وموسسات تعلیمي وتحصیلي کشور ، فاصله داشتن مردم ازپنج وقت نماز در روز ، نګذاشتن سنت ریش از جانب مردان وده ها بدعت ونارواي دیګر در بین افراد جامعه عمومیت داشت [illegible] الحمد درنتیجه امرونهي موظفین [illegible] وزارت جلو این همه بدعت وناروا درجامعه ګرفته شده وجاي بسیار خوشي وخوشبختي است که امروز سیرت وصورت هموطنان ،آراسته با زیور شریعت غراي محمدي «ص» مي باشد . نامبرده ګفت : ما مطابق احکام قرآن وسنت پیامبر «ص» مردم را امر ونهي نموده وباهیچ کسي از روي تبعیض وتضاد برخورد نداریم ، ما هر ګونه تسهیلات وآسایش را که مخالف شرع اسلام نباشد میپذیریم ویګانه غایه وآرمان ما تطبیق قانون خدا«ج» درسرزمین خدا«ج» مي باشد موصوف علاوه نمود : از آنجائیکه افغانستان یك کشور اسلامي بوده ومردم آن الحمدلله همه مسلمان میباشند فلهذا تقاضاي ما از عموم هموطنان متدین وبادیانت کشور همین میباشد که آنچنانیکه خود را مسلمان تلقي میدارند باید اعمال وکردار خویش را نیز مطابق قانون شریعت با زیوراسلام آراسته ساخته ودر اجتماع اسلامي خویش چنان برخورد نمایند که شایسته یك مومن پاك مي باشد . از جانب دیګر قسمیکه امروز ملاحظه میګردد هموطنان شریف ومتدین ما کلیه دستورات شرعي واوامر اسلامي راازدل و جان پذیرفته وآنرا بالاي خویش صادقانه تطبیق مینمایند .

محترم حقاني در پاسخ به یك پرسش دیګر ګفتند : ما براي بازګشت واقامت آنعده از هموطنان خویش که بدون داشتن ریش از کشور هاي اروپایي وغربي به کشور عودت مینمایند تسهیلات وآسایش قابل ملاحظه رافراهم نموده ایم آنها میتوانند از نزدیکترین اداره امربالمعروف ونهي عن المنکر مکتوب در رابطه به تصدیق ورودشان از ممالك خارجي به کشور ګرفته ویا مصوئنیت خاطر از فامیل ودوستان حین اقامت شان در کشور دیدن نمایند در رابطه به تقسیم اوقات کاري موظفین آن وزارت محترم «حقاني» اینګونه توضیحات دادند:

تقسیم اوقات کاري این وزارت در چوکات پنج بخش مسلکي اینګونه تنظیم یافته است .

۱- بخش دعوت وارشاد
۲- ازاله منکرات
۳- انسجام علما
٤- مراقبت امورعامه
۵- نشرات

خاطر نشان باید ساخت که بخش ازاله منکرات در صدر برنامه هاي این وزارت قرار داشته وتوانسته است در کوتاه مدت دست آوري هاي شایاني را نصیب شود . البته در چوکات ریاست ازاله منکرات آمریتي بنام نظارت خانه وجود دارد . آنعده از افراد اجتماع اسلامي ماکه هرګاهي مرتکب جرم شرعي شوند ویا هم از دستورات امر با لمعروف ونهي عن المنکر تخطي نمایند جهت آراسته شدن صورت وسیرت آنها به اقامه معروف مکلف اند تا مدتي را درین نظارت خانه سپري نمایند .هرجرم شرعي مطابق لایحه نافذه این وزارت از خود تعزیراتي دارد که متخلف مکلف به تطبیق آن تعزیرات بالاي خود مي باشد . مثلاً : آنعده از مردانیکه ریش خودرا تراش ویا کوتاه نمایند مدت ده یوم حبس میګردند ویاهم انعده از معتادین مواد مخدر که در اثناي استعمال دستګیرشوند بالترتیب معتادین چرس ۳ ماه و معتادین هیروئین ٦ ماه محکوم به حبس میګردند . محترم «حقاني» تسهیلاتي راکه موظفین وزارت امر بالمعروف ونهي عن المنکر براي محبوسین در ین نظارت خانه فراهم نموده اند چنین یاد آورشد :

اعاشه سه وقته محبوسین به وقت وزمان بصورت مکلف تهیه وتوزیع میګردد.

مشکلات صحي محبوسین به وقت وزمان بازرسي میشود

جهت آګاهي بیشتر وروشنائي اذهان محبوسین معلومات دیني واسلامي در جریان روز از جانب علما ، جید ومنور براي آنان تدریس میګردد .اقارب ووابستګان محبوسین این نظارت خانه میتوانند از آغاز یا مداد الي ختم روز در فضاي آزاد با محبوسین ملاقات نموده واز آنان احوال ګیري نمایند به عنوان آخرین اظهار نظر محترم «حقاني» ابرازداشت : تبلیغات در غبن وسوءراکه امروز مطبوعات خارجي درقبال فعالیت هاي این وزارت نشر مینماید ما به آن کوچکترین وقعي نګذاشته ومیګوییم که این تبلیغات نمیتوانند هیچګاه در مقابل امرونهي ما به منظور تطبیق قانون خدا«ج» در سرزمین خدا«ج» سدواقع ګردد . یکبار دیګر یاد آورمیشوم که هدف وآرزوي ما تامین ګسترش فرهنګ اسلامي در کشور بوده و تا آخرین امکانات علیه بدعت وناروا مبارزه خواهیم نمود .

مهربان

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press